مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲۲/۱۰/۲۸

غزل

زه خپله خاوره، خپل لښکر غواړمه
ملي بېرغ په سمه او غر غواړمه

چې د دې خپل وطن ساتنه وکړي
داسې اردو، داسې عسکر غواړمه

دا مې شعار دی یا وطن یا کفن
د ننګ نعره له هر سنګر غواړمه

خلک په رایه جمهوریت جوړوي
جمهوري واک په لر او بر غواړمه

مُلا د تخت لپاره دین کاروي
مُلا جومات کښې په ممبر غواړمه

پسرلی خپر د خپل ملت غواړمه
او هر غلیم لره محشر غواړمه

مصطفی پسرلی
26/Oct/2022

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ